قرآني بيان

د زړهٔ د سختۍ وبال

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)
د انتظام لاندې د جوماتونو د پاره

په 13 نومبر، کال 2026ء
(متوقع إسلامي تاریخ: 2 جمادي الآخر، کال 1448ھ)
د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) د انتظام لاندې د جوماتونو د پاره
پۂ 13 نومبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 2 جمادي الآخر، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پۂ نوم

د زړۂ د سختی وبال

پۂ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د غرونو وېره
- شُکر ګزار کانړے (واقعه)
- د زړۂ د سختی یو څو وجې
- د زړۂ د نرمولو 3 نُسخې

پیشکش
اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786
GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمہ**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

د دُرُود شریف فضیلت

د اَربعینِ عطّار، قسط: 2، صفحہ: 11، حدیثِ پاک نمبر: 11 دے:

مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ اَوْ سَاَلَ لِیَ الْوَسِیلَۃَ حَقَّتْ عَلَیْہِ شَفَاعَتِیْ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

ترجمہ: چا چې په ما باندې درود شریف ولوستلو، یا یې د الله پاک په بارګاه کښې زما د پاره د وسیلې دُعا اوکړه، د قیامت په ورځ د هغه د پاره زما شفاعت ثابت شو۔ [1]

خاص محبوبِ خدا ختمِ رسالت پر سلام
عینِ رحمت شافعِ روزِ قیامت پر سلام
عرض کیجے کافیؔ...!! مُشْتَاقِ ہر لَیْل و نَہار
صاحبِ لَوْلَاک، سُلطانِ شفاعت پر سلام [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِیَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً

---

[1]... فضل الصلاۃ علی النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ: 51، حدیث: 50۔

[2]... کافی کی نعت، صفحہ: 42 ملتقطًا۔

وَ اِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ
فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ مَا اللّٰهُ
بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ (پاره: 1، سورۀ بقره: 74)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بیا د هغې نه پس ستاسو زړونه سخت شول نو هغه د کاڼو پۀ شان دي بلکې د هغو نه هُم زیات سخت دي او د کاڼو نه خو څۀ هغه دي د کومو نه چې نهرونه بهېږي، او څۀ هٰغه دي چې کله هغه وچوي نو اوبه ترېنه را ووځي او څۀ هغه دي کوم چې د الله له وېرې راغورځېږي، او الله ستاسو د کړو نه هیڅ کله بے خبره نۀ دے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه د وړومبۍ سیپارې، د سُورۀ بقره آیت: 74 د اورېدو سعادت حاصل کړو، د سورۀ بقره د 49 نمبر آیت نه د بني اِسرائیلو د بدو چې کوم بیان شروع شوے وو، هغه دلته ختمېږي- راځئ چې د آیت مبارک د اورېدو، پۀ هغې باندې د ځان پوهه کولو او د هغې نه سبق واخلو:

د آیت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک ارشاد فرمائي:

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ (پاره: 1، سورۀ بقره: 74)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بیا د هغې نه پس ستاسو زړونه سخت شول-

یعنې پۀ بني اِسرائیلو باندې دومره انعامات وشول، هغوئي ته بیا بیا نعمتونه عطا کېدل خو هغوئي د شُکر ادا کولو پۀ ځائے مسلسل نافرماني کوله [1] ❁ هغوئي ته د فرعون نه نجات ورکړے شو، هغوئي ناشکري اوکړه ❁ هغوئي ته تورات عطا کړے شو، هغوئي ناشکري

[1] ... تفسیر جلالین مع حاشیه صاوی، پاره: 1، سورۀ بقرة، زیرِ آیت: 74، جلد: 1، جز: 1، صفحه: 83۔

اوکړه، د سخي عبادت يې شروع کړو ❁ هغوئي ته د توبې توفيق ورکړے شو، هغوئي ناشکري اوکړه ❁ د هغوئي 70 ګسان کوهِ طُور ته وغوښتلے شول، هغوئي ګستاخي اوکړه ❁ هغوئي ته من او سلوىٰ عطا کړے شو، هغوئي ناشکري اوکړه ❁ هغوئي ته د قدرت نخښې وښودلے شوې، هغوئي ناشکري اوکړه، د الله پاک پۀ نافرمانو کښې مصروف اوسېدل، د ګناهونو نه منع نه شول، اخر يې نتيجه دا راغله چې د هغوئي زړونه سخت شول- خومره سخت شول؟ وه يې فرمائيل:

فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ (پارہ:1، سورۀ بقرہ:74)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو هغه د کانړو پۀ شان دي-

دا د ډېرې سختی علامت دے، هسې خو سخت نور څيزونه هم وي، اوسپنه خومره سخته وي خو چې پۀ وور کښې يې کېږدې نو نرمه شي ❁ لرګے هم سخت وي خو چې پۀ اوبو کښې يې کېږدې نو نرم شي ❁ پلاسټک سخت وي خو چې وور ته يې وغورځوې نو وِيلې شي ❁ کانړے داسې څيز دے چې که پۀ اوبو کښې يې کېږدې نو وِيلې کېږي نۀ، پۀ وور کښې سوزي نۀ، پۀ نمر او ګرمېدو کښې ويلې کېږي نۀ، دا ماتولے، پۀ څَټَک باندې وړوکے وړوکے کېدے خو شي خو نرمېدے نشي، داسې بني اِسرائيلو ته د ګناهونو سزا مېلاؤ شوه، د هغوئي د نافرمانو سپېرۀ والے دا شو چې د هغوئي زړونه د کانړي پۀ شان سخت شول، يعنې داسې شول چې اوس پۀ څۀ نرمېدے نشي-

بلکې خبره خو د دې نه هم مخکښې تلې ده، هغه څنګه؟ وه يې فرمائيل:

اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً (پارہ:1، سورۀ بقرہ:74)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بلکې د هغو نه هُم زيات سخت دي-

يعنې د هغوئي زړونه د کانړي نه هم سخت شول- نو اوس به د کانړي نه زيات سخت څۀ څيز وي؟ الله پاک وفرمائيل:

وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ۝۷۴

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:74)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او د کانړو نه خو څۀ هغه دي د کومو نه چې نهرونه بهېږي، او څۀ هٰغه دي چې کله هغه وچوي نو اوبه ترېنه را ووځي او څۀ هغه دي کوم چې د الله له وېرې راغورځېږي، او الله ستاسو د کړو نه هيڅ کله بے خبره نۀ دے۔

يعنې که کانړے هر څومره هم سخت شي، د الله پاک نافرماني نۀ کوي، دا هم چوي، د دې نه هم چينې جاري کېږي، د الله پاک د وېرې نه غټ غټ غرونه، غټې غټې غونډۍ راخوځېږي خو دا د ګنهګارانو زړونه دي چې دومره سخت شول، دومره سخت شول ❁ چې پۀ دې باندې هيڅ هم اثر نۀ کوي ❁ د الله پاک د حکم اورېدو سره نۀ زَهيره کېږي ❁ د عذاب د ذِکر پۀ اورېدو نۀ وېرېږي ❁ د جنَّت د نعمتونو د بيان اورېدو سره هٰغه طرف ته نۀ مائله کېږي، ځکه دا د ګنهګارانو زړونه دي کوم چې د کانړو نه هم ډېر سخت شوي دي۔ [1]

پۀ کانړو کښې هم شعور وي

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: دلته دا معلومه شوه چې پۀ کانړو کښې هم شعور وي، دا بېله خبره ده چې مونږه د هغوي د شعور نه خبر نۀ يو۔ [2]

---

[1]... تفسیر کبیر، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:74، جلد:1، صفحہ:555 خلاصۃً۔

[2]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:74، جلد:1، صفحہ:479۔

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ یُسَبِّحْنَ وَالطَّیْرَؕ وَ كُنَّا فٰعِلِیْنَ۝۷۹

(پارہ:17، سورۃ الانبیاء:79)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او غرونه او مرغۍ مو د داؤد تابع کړلې چې هغه غرونو او مرغو به تَسْبِیْح کوله او دا (هر څۀ) کوونکي مونږه وو-

معلومه شوه چې پۀ زمکه او اسمان کښې څۀ هم دي، نمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه وغیره ټول د الله پاک پۀ حضور کښې سجده کوي، اوس د هغوي سجده څنګه ده؟ کله یې کوي؟ څنګه یې کوي؟ پۀ کوم انداز یې کوي؟ دې نه الله پاک ښه خبر دے- ❁ د ابو جهل پۀ لاس کښې کاڼو کلمه ووئیله، کومه چې ابو جهل هم واورېدله ❁ د مکې مکرمې بعضو خوش قِسمه کاڼو به د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې سلام هم پیش کولو ❁ د اُحُد غر پۀ باره کښې اِرشاد وشو: هَذَا اُحُدٌ یُحِبُّنَا وَنُحِبُّهٗ یعني اُحُد غر زمونږ سره محبت کوي، مونږ د دۀ سره محبت کوو- [1]

د اُحُد د غر فضیلتونه

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د اُحُد د غر--!! مَاشَآءَ الله! دا عاشقِ رسول غر دے او د دې مقدس غر د قِسمت نه زار شم! زمونږه کلونه تېر شول د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامۍ پۀ نعرو وهلو، قِسمت والا خو هغه دے کوم چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قبول کړو-

اللہ کا محبُوب بنے جو تمہیں چاہے
اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو [2]

---

[1] ... بخاری، کتاب الزکاۃ، باب خرص التمر، صفحہ:414، حدیث:1482۔

[2] ... ذوقِ نعت، صفحہ:206۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: فَاِذَا جِئْتُمُوْهُ کله چې تاسو اُحُد غر ته راشئ فَكُلُوْا مِنْ شَجَرِهٖ په دې باندې د راختلے وَنې پانې (د تبرک په توګه) خورئ! وَلَوْمِنْ عَضَاهِهٖ اګر که په اُحُد غر باندې د راختلې وَنې صرف ازغي هُم مېلاؤ شي (د برکت د پاره هم په هغې شخوند وهئ!)۔ [1]

علّامه مناوي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ازغي د جوولو څيز نۀ دے، د دې د جوولو د پاره به ډېر محنت کول وي، د نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د فرمان مطلب دا دے چې د اُحُد غر کوم چې برکتي دے، د دې سره د نسبت لرونکو وَنو نه د برکت که چرې په اسانۍ سره وانخستے شئ نو ځان په مشقت کښې واچوئ خوبرکت حاصل کړئ! [2]

جس کے جلوے سے اُحُد ہے تاباں، معدنِ نُور ہے اس کا داماں
ہم بھی اس چاند پہ ہو کر قُرباں دِلِ سنگیں کی جِلا کرتے ہیں [3]

وضاحت: يعني هٰغه د طيبه مياشت، د بي بي آمنې رضی اللہ عنہا مبارکه مياشت يعني د مکې مدينې تاجدار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د کوم په جلوو چې د اُحُد غر ځلېږي، د هغوئ جولۍ د نُور درنګ جوړ شوے دے، مونږ هم د هٰغه طيبه په مياشت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې په قربانېدو د هغوئ په ذريعه د زړۀ د سختۍ عِلاج کوو۔

د غرونو د اللہ پاک نه وېره

بهر حال! د دې نه معلومه شوه چې په غرونو کښې هم شعور وي، البته د دې نه مونږ خبر نۀ يو۔ دا شعور د کومه حده پورې وي، کوم کوم قِسم وي؟ اللہ پاک فرمائي:

---

[1]... جامع صغير، صفحه:21، حديث:239۔

[2]... فيض القدير، جلد:1، صفحه:239، تحت الحديث:239 ماخوذًا

[3]... حدائقِ بخشش، صفحه:113۔

وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِؕ

(پارہ:1، سورۀ بقرہ:74)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د کانړو نه خو څۀ هغه دي د کومو نه چې نهرونه بهېږي، او څۀ هغه دي چې کله هغه وچوي نو اوبه ترېنه را ووځي او څۀ هغه دي کوم چې د الله له وېرې راغورځېږي، او الله ستاسو د کړو نه هيڅ کله بے خبره نۀ دے۔

يعنې پۀ غرونو کښې د الله پاک وېره هم وي او د دومره حده پورې وي چې د وېرې د وجې نه د هغو نه نهرونه بهېږي، غرونه چوي ، د بعضې غرونو غټ غټ ټوټان، غټې غټې غونډۍ د الله پاک د وېرې نه راخوځېږي او ښکته راپرېوځي۔

شُکر ګزار کانے

اِمام ابو القاسِم قُشَيري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ **ليکلي دي**: د الله پاک يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام چرته پۀ يو ځائے باندې تېرېدلو، هغوئي پۀ لاره کښې يو وړوکے شان کانے وليدلو، د هغې نه مسلسل اوبه راوتلې، د لوئي غر نه چينه جاري کېدل د معمول خبره ده خو د وړوکي شان کانې نه اوبه راوتل او مسلسل بهيدل دا د حېرانتيا خبره ده، د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې د کانې نه اوبه راوتلې وليدلې نو حېران شو نو الله پاک هغه کانې ته د خبرو کولو طاقت ورعطا کړلو، کانې عرض اوکړو: اے د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! چې د کله نه ما ته معلومه شوې ده چې د دوزخ خَشاک انسانان او کانې دي، د هغه وخت نه زۀ د الله پاک د وېرې د وجې نه ژاړم، تاسو عَلَيْهِ السَّلَام چې کومې اوبه زما نه بهيدونکې وينئ، دا اوبه نۀ دي بلکې زما اوښکې دي کومې چې د الله پاک د وېرې له وجې بهېږي۔ د کانې د درد نه ډکه دا خبره چې يې

واورېدله نو د الله پاک د نبي عَلَيْهِ السَّلَام پرې رحم راغلو، هغوئي پۀ لاس کښې راواخستو، د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې دُعا اوکړله: يا الله پاکه! دا کانې د دوزخ د وور نه محفوظ کړې- الله پاک د هغوئي دعا قبوله کړله او فوراً يې وحي راولېږله چې مونږه دا کانې د دوزخ د وور نه ازاد کړو- د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام کانې له دا زېرے ورکړو او وړاندې يې تشريف يوړلو، چې کله واپس راغلو او وه يې کتل نو د کانې نه بيا هم اوبه بهېدلې، د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ترېنه پوښتنه اوکړه: تا ته د دوزخ د وور نه د ازادۍ زېرے مېلاؤ شوے دے، اوس څۀ معامله ده؟ اوس ولې ژاړې؟ کانې عرض اوکړو: ذٰلِكَ كَانَ بُكَاءَ الْخَوْفِ وَهٰذَا بُكَاءُ الشُّكْرِ يعنې مخکښې مې د الله پاک د وېرې نه اوښکې بهېدلې، اوس د شُکرانے اوښکې توئي کووم- [1]

د الله پاک د وِېرې نه د ژړېدو فضيلتونه

الله! الله! کاش چې زمونږه هم د الله پاک د وېرې نه ژړېدل نصيب شي- **د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** د کوم مؤمن د سترګو نه چې د الله پاک د وېرې له وجې اوښکې راووځي اګر که د مچ د سر برابر وي، بيا هٰغه اوښکې د هغه د مخ ظاهري حصې ته راورسي نو الله پاک پۀ هغه باندې دوزخ حراموي- [2]

قلب پتھر سے بھی سختی میں بڑھا جاتا ہے
لاؤں وہ اشک کہاں سے جو سیاہی دھوئیں
المدد...!! یاشہِ ابرار مدینے والے!

خَول پر خول سیاہی کا چڑھا جاتا ہے
گندگی میں مرادِ حد سے بڑھا جاتا ہے
قلب سے خوفِ خُدا دور ہوا جاتا ہے

[1]... رساله قشيريه، كتاب الشكر، صفحه:213۔
[2]... شُعَبُ الْاِيْمَان، جلد:1، صفحه:490، حديث:802۔

پۀ یو حدیثِ پاک کښې دي: د الله پاک د وِیرې نه ژړېدونکے به هیڅکله دوزخ ته نۀ داخلېږي د دې پورې چې پی ِ تي ته واپس لاړ شي۔ [1]

مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: مطلب دا دے چې لکه څنګه چې د تي نه وتلي پی ِ واپس تي ته تلل ممکن نۀ دي، هم داسې **د الله پاک د وِیرې** نه د ژړېدونکي ګس دوزخ ته تلل ناممکن دي۔ [2]

لائقِ نار ہیں مرے اعمال | التجا یا خُدا کرم کی ہے [3]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق را عطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د زړۀ د سختی وَبال

الله پاک فرمائي:

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِیَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ

(پارہ:1، سورۂ بقرہ:74)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیا د هغې نه پس ستاسو زړونه سخت شول نو هغه د کانړو پۀ شان دي بلکې د هغو نه هُم زیات سخت دي۔

دا د بني اِسرائیلو عیب بیان شو چې د هغوئي زړونه د کانړو نه هم سخت شول، ځکه پۀ هغوئي باندې څۀ نصیحت اَثر نۀ کوي۔ زمونږ د پاره حکم دے چې مونږه د دې بدقِسمتی نه ځان بچ کړو، د خپل زړۀ ښه پوره حفاظت اوکړو او دا هیڅکله هم مړ کېدو ته نۀ پرېږدو۔

---

[1] ...ترمذی، کتاب: فضائلِ جهاد، صفحه:415، حدیث:1633۔

[2] ...مرآۃ المناجیح، جلد:5، صفحه:436۔

[3] ...وسائلِ بخشش، صفحه:141۔

د مړو زړونو والوۀ پۀ شان مۀ کېږئ---!!

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَلَا یَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَیْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْؕ

(پارہ:27، سورۀ حدید:16)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او مسلمانان دې د هٰغه خلقو پۀ شان نۀ کېږي کومو ته چې کتاب ورکړے شو بیا پۀ هغوئي موده اوږده شوه نو د هغوئي زړونه سخت شول-

پۀ دې آیت مبارک کښې الله پاک د مخکښینو قامونو ذِکر وفرمائیلو چې هٰغه خلق کومو ته چې کتاب ورکړے شوے وو، هغوئي پۀ اوږدو اُمیدونو کښې اخته شول، د کوم له وجې چې د هغوئي زړونه سخت شول، بس اے مسلمانانو! اے د مَحبوبِ ذِي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلی الله علیه واله وسلم ربښتینو غلامانو! تاسو هیڅکله هم د هٰغه اهلِ کتابو پۀ شان مۀ کېږئ! بلکې د اوږدو اُمیدونو نه هم ځان ساتئ! او د خپل زړۀ هم ښه پوره حفاظت کوئ---!!

چې زړۀ ټیک وي نو هر څۀ ټیک وي

اے د خوږ نبي صلی الله علیه واله وسلم عاشقانو! زمونږه زړۀ د ټولو نه قیمتي تختی ده، دا د ګناهونو نه پاکول د دِین مطلوب دے، هم دا د اِصلاح راز دے، هُم پۀ دې باندې د انسان اصلاح کېږي، هم پۀ دې باندې کارونه صحیح کېږي- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلي دي: اَلَا وَاِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ، وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ، اَلَا وَهِیَ الْقَلْبُ واورئ! بے شکه چې پۀ بدن کښې د وینې یوه ټوټه ده، کله چې هغه ټیک شي، ټول بدن ټیک شي او کله چې هٰغه ټوټه خرابه شي نو ټول بدن خراب شي،

واورئ! هغه زړۀ دے۔ [1]

د دې حديثِ پاک پۀ شرح کښې علمائے کرام فرمائي: د بنده ټول کارونه د هغه د زړۀ سره تړلي دي، که چرې زړۀ پاک صفا وي ❁ پۀ دې کښې د الله پاک محبت وي، د الله پاک د محبوب بندګانو محبت وي ❁ پۀ زړۀ کښې د الله پاک او د هغه د نافرمانی وِبره وي نو د بنده ټول کارونه صحيح کېږي، بنده د ګناهونو نه بچ کېږي بلکې پۀ ګناه کښې د اخته کېدو د وِبرې نه د شُبهَاتو نه هم ځان ساتي او که چرې زړۀ خراب شي، زړۀ د نفس پۀ خواهشاتو پسې روان شي، پۀ هغه کښې د الله پاک وبره پاتې نشي نو د بنده ټول کارونه خراب شي او بنده د نفس پۀ خواهشاتو کښې راګېر شي او پۀ ګناهونو کښې اخته شي، ځکه خو وئيلے کېږي: زړۀ د ټول بدن بادشاه دے او ټول اندامونه د دې لښکر دے، که بادشاه نېک وي نو لښکر هم نېک شي او که بادشاه خراب شي نو ټول لښکر خراب شي۔ [2]

دِل ہی ڈبوئے، دِل ہی ترائے | دِل سا دوست نہ دِل سا دُشمن

اعلیٰ حضرت څومره ښه وئيلي دي:

دِل کہ تیمار ہمارا کرتا | آپ بیمار ہے کیا ہونا ہے
تیرے بیمار کو میرے عیسیٰ! | غش لگاتار ہے کیا ہونا ہے [3]

وضاحت: زړۀ به زمونږه څۀ خيال ساتلو،هغه خو پخپله بيمار دے، اوس به زمونږه څۀ کېږي---؟ اے زما عيسیٰ (يعني شِفا ورکوونکي نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ستاسو غلام پۀ ګناهونو کښې اخته دے، پرله پسې پۀ غفلت کښې دے۔ آه! څۀ به کېږي---؟

---

[1] ... بخاری، کتاب الایمان، باب فضل من استبرا، صفحه:8584، حدیث:52۔
[2] ... جامع العلوم والحکم، صفحه:8483 بتغیر۔
[3] ... حدائق بخشش، صفحه:167166 ملتقطاً۔

د ټولو نه لويه سزا

د تِرمذي شريف حديثِ پاک دے: د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اِنَّ اَبْعَدَ النَّاسِ عَنِ اللّٰہِ الْقَلْبُ الْقَاسِی يعني سخت زړۀ والا انسان د ټولو نه زيات د الله پاک نه لرې دے۔ [1] حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: بندګانو له چې کومې سزاګانې ورکولے کيږي، پۀ هغې کښې د ټولو نه لويه سزا دا ده چې د بنده زړۀ سخت کړے شي۔ [2]

قَلب سختی میں حَد سے بڑھا ہے — بندہ طالب ترے خَوف کا ہے
اِلتجائے غمِ مصطفٰے ہے — یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے
حُبِّ دُنیا میں دِل پھنس گیا ہے — نَفسِ بَد کا رحاوِی ہوا ہے
ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے — یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے [3]

څلور بدبختی

پۀ يو حديث شريف کښې دي: 4 څيزونه بدبختي ده: (1): د سترګو جُمُوْد (يعني اوښکې نۀ وَتل، ژړا نۀ راتلل) (2): د زړۀ سختي (3): اوږد اُمّيد (4): د دُنيا لالچ۔ [4]

الله پاک دې مونږه د دې بدبختی نه بچ کړي، مونږ له د خپل زړۀ حالت ته توجه کول پکار دي، که زړۀ سخت شو نو د دې د عِلاج کوشش کول پکار دي۔

د زړۀ د سختی يو څو وجې

اے د خورِ نبي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د زړۀ د سختېدو او د دې د زنګ نيولو ډېرې وجې

---

[1] ... ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:573، حدیث:2411۔

[2] ... ذم قسوۃ القلوب، صفحہ:260۔

[3] ... وسائل بخشش، صفحہ:134 ملتقطاً۔

[4] ... مسندِ بزّار، جلد:13، صفحہ:88، حدیث:6442۔

(**Reasons**) دي: مثلاً ❁ فضول خبرې (يعني بغېر د ضرورت نه د خبرو کولو) سره زړۀ سختېږي- **خورِ نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي**: د اللّٰه د **ذِکر** نه عِلاوه ډېرې خبرې مۀ کوئ! بے شکه ډېرې خبرې کول زړۀ سختوي- [1] ❁ داسې هم د ډېرې خندا سره زړۀ سختېږي، **پۀ حديث شريف کښې دي**: اِنَّ کَثْرَۃَ الضِّحْکِ تُمِیْتُ الْقَلْبَ بے شکه ډېره خندا زړۀ مړ کوي- [2] ❁ هم داسې زيات خوراک، پۀ خاص توګه د حلالو او د حرامو د پروا کولو نه بغېر خوړل، زړۀ مړ کوي ❁ او زړۀ ته د ټولو نه زيات نقصان رسوونکے څيز ګناه ده- ګناه که وړه وي او که لويه پۀ زړۀ باندې بد اثر کوي، اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پارہ:30، سورۂ مُطَفِّفِین:14)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بلکې د هغوئ ګټلو اعمالو د هغوئ پۀ زړونو زنګ خېژولے دے-

دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد	کوئی ایسی ہَوا چَلا یا رَبّ!
نفس و شیطان ہو گئے غالب	اُن کے چُنگل سے تُو چُھڑا یا رَبّ!
نیم جاں کر دیا گُناہوں نے	مَرَضِ عصیاں سے دے شِفا یا رَبّ!
واسطہ میرے پیر و مرشد کا	مجھ کو تُو متقی بنا یا رَبّ![3]

د زړۀ د نرمولو 3 نسخې

د زړۀ د سختی ختمولو، د زړۀ د نرمولو 3 نسخې وړاندې کووم:

---

[1]... ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء فی حفظ اللسان، صفحہ:573، حدیث:2411۔

[2]... ابنِ ماجہ، کتاب الزہد، باب الحزن و البکاء، صفحہ:681، صفحہ:4193۔

[3]... وسائل بخشش، صفحہ:8179 ملتقطًا۔

(1): ذِکرُ اللہ

د اللہ د ذِکر ډیر ډیر کولو سره د زړۀ نه زنګ لرې کېږي- **پۀ حدیث شریف کښې دي:** د اللہ پاک حبیب، د زړونو طبیب صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه لکه څنګه چې اوسپنه زنګ نیسي، هم داسې زړونه هم زنګ نیسي- عرض اوکړے شو: یا رسولَ اللہ صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د زړۀ د زنګ علاج څۀ دے؟ وه یې فرمائیل: مرګ پۀ کثرت سره یادول او د اللہ ذِکر ډیر ډیر کول- [1]

کاش لَب پر مرے رہے جاری — ذِکر آٹھوں پہر ترا یارب!
چشمِ تَر اور قلبِ مُضطَر دے — اپنی اُلفت کی مے پِلا یارب![2]

(2): د مرګ یاد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د زړۀ نه د زنګ لرې کولو والا دویم نېک عمل دے: **مرګ رایادول-** آؤ جي! د مرګ د رایادولو سره هم د زړۀ نه زنګ لرې کېږي- امام اِبنِ ابي دُنیا رَحمَۃُ اللہِ عَلَیہ لیکلي دي: یو ځل یوه زنانه د حضرت عائشه، صِدّیقه، طیبه، طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنہا پۀ خدمت کښې حاضره شوه او د زړۀ د سختی شکایت یې اوکړو- حضرت عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللہُ عَنہا ورته وفرمائیل: اَکْثِرِیْ ذِکْرَ الْمَوْتِ یعني مرګ ډیر ډیر یادوه!

یو څو ورځې پس هغه زنانه واپس راغله او د حضرت عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللہُ عَنہا مننه یې اوکړه (چې ما ستاسو پۀ بیان کړے شوي نسخه باندې عمل اوکړو نو د اللہ پاک فضل وشو، د مرګ یاد رنګ راوړو او د زړۀ نه مې سختي لرې شوه)- [3]

معلومه شوه چې د مرګ یادولو سره د زړۀ نه زنګ ډېر پۀ ټېزی سره لرې کېږي، ځکه

---

[1]... شُعَبُ الایمان، جلد:2، صفحه:353، حدیث:2014۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:79۔

[3]... موسوعة امام ابن ابی الدنیا، باب ما یعین ذکر الموت، جلد:5، صفحه:442، حدیث:156۔

مونږ له پکار دي چې وخت پۀ وخت مرګ رایادوو-

د مرګ د یاد نه د غفلت انجام

حضرت سعید بن جُبَیر، ربیع بن ابو راشِد او نور دِیر د دِین بزرګان رحمۃ اللہ علیہم **فرمائي:** که د یوې لحظې د پاره هم د مرګ یاد د زړۀ نه لرې شي نو زړۀ خرابیږي-[1]

اَللّٰہُ اَکْبَر! د مرګ یاد که د زړۀ نه د لږ ساعت د پاره هم لرې شي نو زړۀ خرابیږي، مونږ ته خو هډو مرګ رایادیږي هُم نۀ، که رایادیږي نو هم کله نا کله هغه هم بس د لږ ساعت د پاره- آه! زمونږ د زړونو حال بۀ څۀ وي---!!

لاؤں وہ اَشک کہاں سے جو سیاہی دَھودیں
گندگی میں مرا دِل حَد سے بڑھا جاتا ہے
عارضی آفتِ دُنیا سے تو ڈرتا ہے دِل
ہائے بے خوف عذابوں سے ہوا جاتا ہے[2]

(3): د صالحانو صحبت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د زړۀ نه د زنګ لرې کولو درېم او عملي طور د ټولو نه اثرناکه طریقه **نېک صحبت** دے ❁ د الله پاک د نېکانو بندګانو سره د ناستې پاستې ❁ د هغوئ د خبرو اورېدلو ❁ د هغوئ طرف ته پۀ محبت سره د کتلو او ❁ د هغوئ د سیرت اختیارولو پۀ برکت دومره پۀ تېزۍ سره د زړۀ نه زنګ لرې کېږي چې څۀ جواب یې نشته-

د زړۀ د سختی نا اشنا علاج

حضرت جعفر بن سُلَیمان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ما به چې کله هم پۀ خپل زړۀ کښې

---

[1]... مجموع رسائل ابنِ رجب، ذم قسوۃ القلب، جلد:1، صفحہ:265۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:432۔

سختي ومونډله نو سحر وختي به د حضرت محمد بن واسِع رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ خدمت کښې حاضريدم، د هغې پۀ برکت به ما ته فائده رارسېدله۔ [1]

اللہ اللہ کیے جانے سے اللہ نہ ملے | اللہ والے ہیں جو اللہ سے ملا دیتے ہیں

د ګرم د يو نظر خبره ده

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ **تفسيرِ نعيمي** کښې فرمائي: پۀ ګناهونو ورو ورو زړۀ خِيرنېږي (مثلاً يوه ګناه دې اوکړه نو پۀ زړۀ باندې يو تور داغ جوړ شي، دوهمه ګناه دې اوکړه نو دوهم تور داغ جوړ شي، داسې پۀ ورو ورو زړۀ زنګ ونيسي) او خِيرن زړۀ د عبادت پۀ ذريعه پۀ ورو ورو صفا کېږي خو د نېکانو بندګانو پۀ دښمنۍ سره پۀ ورو ورو نۀ بلکې **يو دَم پۀ زړۀ باندې مُهر ولګي** او که د چا نېک بنده نظر عطا شي نو **خِيرن زړۀ يو دَم وينځلے شوے، پرقبدونکے** شي۔ [2] ځکه خو وئيلے کېږي:

يک زمانہ صحبتِ با اَوليا | بہتر از صد سالہ طاعتِ بے رِيا

وضاحت: يعنې د سوونو کالو بے ريا عبادت يو طرف ته او د يو کامِل ولي د يو څو ساعتونو صحبت بل طرف ته، دا د ولي صحبت چې څومره پۀ تېزۍ سره اثر کوي، عبادت دومره پۀ تېزۍ سره اثر نۀ کوي۔

(ياد ساتئ چې د دې دا مطلب نۀ دے چې نـمونځ، روژه پرېږدئ او بس صرف د نېکانو بندګانو صحبت اختيار کړئ، د دې سره خو به اُلټا اثر کېږي، هسې هم د نېکانو خلقو صحبت نـمونځ ګزاره بے نـمانځه نۀ بلکې بے نـمانځه نـمونځ ګزاره جوړوي)۔

---

[1] ... حِلْيَةُ الْاَوْلياء، جلد:2، صفحه:395۔

[2] ... تفسيرِ نعيمي، پاره:1، سورۀ بقره، زيرِ آيت:7، جلد:1، صفحه:158 خلاصةً۔

فتح محمد نـمونځ ګزاره شو

میاں شہر محمد شرقپوري رحمۃُ اللہِ علیہ د پاکستان پۀ مشهورو اولیائے کرامو کښې دے، یو ځل د هغوئي یو مُرید د هغوئي پۀ خدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! زما یو ځوي دے: فتح محمد- ما هغه پۀ ډېر شوق باندې د قرآن حافظ جوړ کړو خو هغه نـمونځ نۀ کوي- میاں شہر محمد شرقپوري رحمۃُ اللہِ علیہ وفرمائیل: هغه زما خوا له راوله- نو مُرید دوه ورځې پس خپل ځوي د ځان سره حاضر کړو او عرض یـې اوکړو: حضور! فتح محمد حاضر دے- میاں شہر محمد شرقپوري رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ ډېره مینه پوښتنه اوکړه: فتح محمده! نـمونځ ولې نۀ کوې؟ عرض یـې اوکړو: نـمونځ ته زما زړۀ نۀ کېږي، که نـمونځ راباندې کوئ نو زړۀ راله ولکوئ-

میاں شہر محمد شرقپوري رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ چټایی باندې ملاست وو، د فتح محمد خبره چې یـې واورېدله نو پۀ جوش کښې کېناستو او د شهادت پۀ ګوته باندې یـې د هغه د زړۀ طرف ته اشاره اوکړه او وه یـې فرمائیل: لاړ شۀ! اوس به دې زړۀ لکّي- بس د الله پاک د کامِل ولي هم دومره وئیل وو چې د فتح محمد دا حالت شو چې د ماسپښین نـمونځ به یـې شروع کړو نو د مازیګره پورې به هم د ماسپښین نـمونځ پوره کېدلو، د ماسخوتن نیت چې به یـې وترلو نو سحر به پرې شو- [1]

طیبہ سے منگائی جاتی ہے، سینوں میں چھپائی جاتی ہے
توحید کی مے پیالے سے نہیں، نظروں سے پلائی جاتی ہے

الله پاک دې مونږ ته د اولیائے کرامو سره د محبت کولو، د هغوئي د کرم د نظر د طلبګار اوسېدو او بس هم د نېک صحبت اختیارولو توفیق را عطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

[1]... مواعظِ نعیمیہ، صفحہ:317316۔

”القرآن الکریم“ ایپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټېکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم **دعوتِ اِسلامي** د جدید ټېکنالوجۍ پۀ ذریعه هم د عِلمِ دِین عام کولو کوشش کوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem*** (القرآن الکریم) دے- پۀ دې ایپلي کېشن کښې ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❁ او د مختلفو قاریانو پۀ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اورېدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت ***Bookmark*** کېدے هم شي یعني بیا بیا لوستلے کیدونکے سورت یا آیت د ***Bookmark*** کېدو سره پۀ اسانۍ سره لوستلے کېدے شي- اوسه پورې تقریباً د لسو لاکو نه زیاتو ګسانو دا ایپلي کېشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ایپلي کېشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بیان پۀ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د ماښام پۀ نـمونځ کښې دومره ناوخته کول چې ستوري راوخېژي، مکروهِ تحریمي دي-

وضاحت: عام طور پۀ خلقو کښې دا غلط فهمي ده، خلق ګڼي چې کله ستوري راوخېژي نو اوس د ماښام وخت ختم شو- داسې نۀ ده- د ماښام د نـمونځ وخت د ماسخوتن پورې وي- یعنې د ماسخوتن وخت چې څنګه شروع شي نو د ماښام وخت به ختم شي- که چرې د ماښام نـمونځ پاتې شو، وه مو نۀ کړو، لا د ماسخوتن وخت نۀ دے شروع شوے

نو زر يې اوکړئ! دې ته به نمونځ ادا کول وئيلے کېږي، قضا به نۀ وي- البته! دا ياد ساتئ چې **د ماښام پۀ نمونځ کښې دومره ناوخته کول چې ستوري ګڼ شي ، دا مکروهِ تحريمي يعنې د ګناه کار دے-** لهٰذا د ماښام د نمونځ د زر ادا کولو عادت جوړول پکار دي- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** زما اُمت چې د خو پورې د ماښام پۀ نمونځ کښې تادي کوي، د هٰغه وخته پورې به پۀ خير باندې قائم وي-[1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

چرې به هم تنګدستي نه راځي (وظيفه)

يَا رَزَّاقُ (اے دہر رزق ورکوونکيه!)

څوک چې د صبح صادق نه پس د سحر د نمونځ نه مخکښې د خپل کور پۀ څلور واړو ګوټونو کښې ودرېږي او 10 کرته يَا رَزَّاقُ ولولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! چرې به يې هم کور ته تنګدستي نۀ راځي-[2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... ابو داؤد، کتاب الصلاۃ، باب فی وقت المغرب، صفحه:81، حديث:418۔

[2]... چڑيا اور اندھا سانپ، صفحه:25۔